# تر هغه پورې صبر وکړه لکه څومره یې چې حېض کې کوې، بیا غسل وکړه

له أم المؤمنين عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی وایي چې: ام حبیبة بنت جحش چې د عبد الرحمن بن عوف مېرمن وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له وینې شکایت وکړ، نو هغه ورته وفرمایل: «تر هغه پورې صبر وکړه لکه څومره یې چې حېض کې کوې، بیا غسل وکړه». نو هغې به د هر لمانځه لپاره غسل کاوه.
[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

د صحابه وو یوې مېرمنې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وینې د پرلپسې له راتلو څخه شکایت وکړ، نو امر یې ورته وکړ چې په دومره اندازه لمونځ پرېږدي لکه څومره به یې چې د حېض لپاره پرېښوده، مخکې لدې چې دا بیړنی حالت پرې راشي، بیا به غسل کوي او لمونځ به کوي، نو هغې به په خپله خوښه د هر لمانځه لپاره اودس کاوه.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10015